عبدالغفور لېوال
۲۰۲۶/۰۵/۳۰

# د پس‌ښکېلاکي کډواليو زرينه چاره

که له تيارو سره عادت شوې سترګې لمر ته کتلای نه‌شي، دا د لمر نه، بلکي د سترګو ستونزه ده. د لمر د ځلا حقيقت پاينتي دی. خو د سترګو برېښنده کمزوري يو بدلېدونکی حقيقت دی. د سترګو د کمزوری حقيقت د لمر په ځلنده حقيقت کي ورکيږي او له لمر سره عادت شويو سترګو ته تياري په خاطرو بدليږي.

انسان له پيداينته کډوال دی. اسماني دينونه وايي: انسان له جنت څخه خاورينې زمکې ته راوشړل شو، مانا پر خاورينې زمکي کډوال دی. زمکنۍ بشرپېژندنه، چې پر لرغونيو مادي توکيو استدلالي تکيه لري، وايي: خورا لرغوني انسانان له افريقا څخه منځنې ختيځ او بيا له هغه ځايه ګردې نړۍ ته خواره شوي دي.

هغومره چې د تاريخ حافظه مرسته کوي، دا موندلای شو، چې لرغوني انسانان په رڼو اوبو، ښکار، ميوه لرونکيو ونو، څرځايونو، کروړ زمکو او معتدلي هوا پسې له يوې سيمې بلې ته تلل.

يومهال انساني ټولګو او ټولګيو داسي احساس کړه، چې د خوړو سرچيني مخ په کمښت دي او خوړونکي (بنيادمان) زياتيږي، د ميوه‌دارو ونو، رڼو اوبو، څرځايونو او ښکارځايونو د ورخپلولو غريزه ورپيدا شوه. د سرچينو د مالکيت او ورخپلولو حس و غريزه چې پياوړې شوه، «وطن» مفهوم وموند. لومړنيو قبيلو هغه ځای خپل وطن وګانه چې د خوړو له سرچينو يې ګېډې مړېدې او تر اسمان لاندې يې شپې تېرېدې.

لومړني لوی انساني ټولګي د روانو اوبو او سيندونو پر غاړو جوړ شول. تر دې چې روستي تمدنونه هم په همدې نومونو ياد شول. ميسوپوتاميا Mesopotamia يا بين‌النهرين مانا د دوو سيندونو (دجله و فرات) ترمنځ زمکه. د بشريت خورا لرغوني مدنيتونه سومر، اکاديان، بابليونيوس، اشوريان او نور د همدې سيندونو په څنډو جوړ شول، تر دې ورهاخوا د نيل، امو، سيند، ګنګ، هيلمند او نورو سيندونو پرغاړه جوړ شوي مدنيتونه يې د يادولو وړ دي.

په سمسورو ورشوګانو، معتدلي هوا او کرنيزو زمکو پسې مخ په جنوب د لرغونيو اريايانو څوزره کلن قبايلي کوچ د بشريت د تاريخ تر ټولو لويه ټوليزه (کتله‌يي) کډوالي ګڼل شوې، چې د سايبريا له سهيله بيا د هيند تر زړه او مديترانه‌يي ساحلونو پورې خوره شوه.

مخکي مو د مالکيت غريزې ته اشاره وکړه، په طبيعي سرچينو او خوړو د مالکيت غريزې دا اړتيا رامنځته کړه، چې انسانان پرې سيالي او شخړې وکړي. د انسانانو ترمنځ لومړنۍ جګړې پر همدې سرچينو او زمکو وې. روسته کلي، ښارونه او هېوادونه جوړ شول او انسانانو په دوو موخو جګړو ته مخه کړه، يا به د بل هېواد نيسي او يا به خپل هېواد له نورو ساتي. په دې توګه کډوالي او جګړه د بشريت د مالکيت له غريزې څخه راوزېږېدل، چې تر نن پورې دوام لري. ناروغی، طبيعي ناورينونه، وچکالی، هوا، جګړې او ديني اړتياوې نورې پېښې وې، چې انسانان يې فردي يا ټوليزو کډواليو ته اړ ايستل. کډوالي په دې توګه لکه جګړه د انساني ټولنو د ژوند يوه تلپاتې اړتيا او ځانګړنه شوه. کډواليو دوه اړخونه لرل؛ هغوی چې کډوال کېدل او هغوی چې د کډوالو کوربانه به شول. دواړو يو له بل څخه اغېز مانه، کوربنو او کډوالو يو له بل سره فرهنګي، اخلاقي، ارزښتي او اقتصادي راکړه ورکړه کوله.

د تاريخ په نوې زمانه کي درې مهمې پېښې رامنځته شوې:

**لومړی:** د نړۍ او بشريت په اړه د انسانانو پوهه زياته شوه. انسان د زمکي جغرافيا وپېژنده، د اوبو او وچې لارې يې وموندلې او د ټلو راتلو لارې ګودرونه ورڅرګند شول.

**دويم:** د بخار ماشين جوړ شو او دوديز ترانسپورت نوی شو. د څارويو د کاروانونو ځای سمندري لارو او لويو بېړيو ونيوه. ماشين وڅرخېد، لوکوموتيف جوړ شو، د وسپني پټلۍ وغځېدې او لويې وچې يې سره وتړلې، په دې توګه يې د کډواليو چاره اسانه کړه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**درېيم:** صنعتي انقلاب اقتصادي سرچينو ته د صنعتي شوي انسان حرص زيات کړ. اروپا کوشنۍ وه، خو صنعت پهکې پياوړی شوی و، صنعت طبيعي سرچينو ته اړتيا لرله، اروپايانو وسله، عقل، تکنولوژي او نورې استعماري پوهې لرلې، ايسته يې په اسيا، امريکا، افريقا او استراليا پسې پايځې رابډوهلې او د ښکېلاک و زبېښاک زمانه يې راپيل کړه.
تر دې روسته سياستونه پيچلي شول، جګړې زياتې او خونړۍ شوې، ورسره کډوالۍ هم زياتې شوې. لا هم هرڅه د انسان په خيټه مړولو راڅرخېدل، جنګونه او کډوالۍ نوې شوې وې، خو غريزې هماغه زړې وې. د مالکيت او ځان مړولو غريزې اوس د لا ډيرې ګټې، پانګې او سياسي واکمنيو د حرص په غريزو بدلې شوې وې. ناروغيو او طبيعي پېښو هم کډواليو ته لار هواروله، خو جګړو او ښکېلاکي يرغلونو تر هرڅه زياتې ټوليزې کډوالۍ پېښولې.
په نوې زمانه کې ډياسپورا يا جلاوطنه ټولنو نوی مفهوم وموند. که څه هم دا اصطلاح زړه وه. ډياسپورا Diaspora په زړه يوناني کې διασπείρω diaspeirō له خپل پلرني ټاټوبي بهر جوړې شوې ټولنې ته وايي، سرسري مانا يې «خواره شوي» ده. په زړه زمانه کې ډياسپورا د هغو يهوديانو لپاره کارېده، چې په ډلهييزه توګه له خپلو مېنو بېځايه کړای شوي وو. يو مهال بابليانو اسيران کړل او تر دې ورهاخوا په مصر او نورو سيمو کې سره تيتوپرک شول. هغه کتلهيي کډوالۍ چې له خپل پلرني ټاټوبي لرې په بله سيمه کې مېشتيږي او هلته د فرهنګي ادغام ترڅنګ د خپل بومي فرهنګ او اصلي ارزښتونو د ساتنې هڅې کوي، ډياسپورا يې بولي. د ښکېلاک د زمانې افريقايي وګړي د مريبانو په توګه امريکا لويې وچې ته ولېږدول شول، هلته سورپوټکي قبايل بېځايه کړای شول او د افريقايي اسيايي هېوادونو په نيولو اروپا او لويديزې نړۍ ته د دغو هېوادونو د ټوليزو کډواليو بهيرونه ورمات شول. په اوسنۍ زمانه کې د هينديانو ډياسپورا مشهوره ده. په انګلستان، امريکا، کاناډا، استراليا او نورو هېوادونو کې يې شمېر زيات دی. تر دوی ورهاخوا د بېلابېلو عربي هېوادونو، د افريقا د شمال، تورکيې، لاتينې امريکا، سوريايان، عراقيان او د نورو جګړهځپليو او ښکېلاک و زبېښاکځپليو ټولنو خلک په نړۍ کې خواره واره دي.
د لويې لوبې د دويمې برخې (سړې جګړې) پرمهال چې افغانستان د دغې جګړې په تاوده ډګر بدل شو، د افغانانو ټوليزه کډوالي پيل شوه او تر هغې زمانې راپه دېخوا په درېيو لويو څپو کې د نړۍ ګوټ ګوټ ته خواره شول، چې اوس يې د نړۍ په کچ يوه لويه ډياسپورا جوړه کړې ده.
د ډياسپورا له مفهوم سره په جلاوطنۍ کې د هويتي او فرهنګي محور پر بنسټ د ټولنيزو اړيکو اصل مهم دی، چې په کوربه ټولنوکې د ادغام ترڅنګ ښايي دوه يا درې نسلونه د خپل هويت، ژبې و فرهنګ د ساتنې هڅه وکړي او د خپل موروطن د برخليک په ټاکنه کې هم فعال وي. په ډياسپورا کې د فرهنګي، مدني و ټولنيزو اړيکو ترڅنګ د ملي فکر پربنسټ د سياسي فعاليت اصل هم يو داسې محور دی، چې ډياسپورا يې پر بنسټ بڼه مومي. په نړۍ کې داسې بېلګې هم شته، چې ډياسپوراوو خپل هېوادونه بېرته رغولي، ژغورلي يا يې ژور بدلونونه پهکې راوستي دي.
ان چې په جلاوطنۍ کې منظمو سياسي جريانونو يوشمېر بېوطنه قومونو ته د وطن جوړولو امکانات هم ورښلي دي. په ډياسپورا کې د اقتصادي فعاليت، تجربو او زدکړو ظرفيتونه هم مور وطن ته له ورستنو شويو سره تللي دي، چې دا ټول يو بېل مبحث دی.
دلته به په نومهالي زمانه کې د ډياسپورا د ونډې په اړه لږ تم شم. تر دويمې نړيوالې جګړې روسته درې داسې ټولنيز بدلونونه پېښ شول، چې لويديځ بشري ځواک ته اړتيا احساس کړه.
لومړی دا چې په دويمه نړيواله جګړه کې ډېر خلک ووژل شول او د نرينه او ښځينه نفوس تر منځ ټولنيز انډول ګډوډ شو.
دويمه خبره دا وه، چې له فرهنګي پلوه يو ژور بدلون رامنځته شو. وګړوالي Individualism ورو ورو د کورنۍ ځای ونيوه، سپين ودونه زيات شول او تر ډېره بريده مېرمنو نهغوښتل ماشومان وزيږوي. روسته بيا دغه تمايل په نرينهو کې هم زيات شو. د بوخت ژوند سرګردانيو، ښکلاييزو اړتياوو، روغتيا ته پام، رواني ګډوډيو، اقتصادي احتياط او ژوند ته د نويو ليدلوريو له کړکۍ کتلو د ماشومزېږولو غوښتنه کمزورې کړه. رسمي ودونه کم شول او ملګرتيا و سپينو ودونو يې ځای ونيوه.
درېيمه کيسه دا وه، چې لويديزه نړۍ په چټکۍ سره ماشيني کېده، صنعتي نړۍ د پسښکېلاکي دوران په رانوې کېدو د ښکېلکړای شويو هېوادونو بشري اختيار بايلود او وګړنی زبېښاک کمزوری شو. د توليد پراختيا بشري پانګې ته اړتيا زياتوله، دغو ټولو لاملونو په لويديځ کې د توليد بشري ظرفيت ته پام وروااړاوه، چې يوه لاره يې د کډوالو منل و. که څه هم د کډوالو سيلاوو مخ په لويديځ روان وو، مګر د اندېښنو او تاوانونو ترڅنګ بشري ځواک ته اړتيا لويديځ دې ته اړ ايسته چې يوشمېر هغه کډوال ومني چې دوی ته د کار و توليد بشري ظرفيت ورښلی شي.
يو معيار دا و، چې د کوشنيو ماشومانو خاوندې کورنۍ ومنل شي. ځکه روزنه او په فعال و توليدي ځواک يې بدلول شوني او اسانه وو.
د تکنولوژۍ چټکې پرمختيا او په تېره بيا برېښنايي رسنيو، کمپيوټر، انټرنيټ او په نوې اوسمهالي زمانه کې مصنوعي ځيرکتيا نړۍ په يوه کوشني کلي بدله کړه او نړيوالتوب نوی مفهوم وموند. صنعتي نړۍ د دې ترڅنګ چې د کډوالو له ناقانونه څپو سره د مخامختيا له درکه اندېښنې لرلې او لري يې، خو بشري ځواک ته اړتيا لاهم يوه ستونزه ګڼي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ډیاسپورا هم خپلو ټولنو او موروطنونو او هم کوربه ټولنو ته د ګڼو ستونزو او فرصتونو یوه دوه اړخیزه معادله ده.
جلاوطنه ټولګې هم د خپلو هېوادونو او هم کوربه ټولنو لپاره د سرو زرو په چړو بدلې شوې دي، چې که یې منه پرې سپینوله خو پهکار به شي او که نه ګوتې و ګېډې یې هم غوڅولای شي.

ترهګري، بنسټپالنه، جرایم، فرهنګي پردیتوب، د هویتونو ماتېدل، د ټولنیز نظم ګډوډول او د اتنیکي انډول ړنګېدل یې لوی تاوانونه ګڼل شوي دي. خو د دې ترڅنګ دوی لا هم ارزانه او په ځینو برخو کې وړیا د کار ځواک او تولیدي بشري پانګه ګڼل کیږي.

پخپله د ډیاسپورا لپاره، هم صنعتي او بډایې ټولنې د ارمانښار غوندې په خوب لیدلي جنتونه نهدي. له فرهنګي پلوه پهکې پردي ایسي، کله کله له ناسم چلند سره مخامخیږي، لومړی نسل د ژبې ستونزه ژر حل کولای نهشي او د ادغام بهیر یې پڅ دی. په وطنپسې ځور، د هویت بېوزلي، ډیپریشنونه، نارامي او د پوچې حس عام دی. کډوال ژر په دې پوهیږي، چې دوی له بل ځنګله څخه راایستل شوې ونې دي، چې دلته به یې ریښې شنې نهشي. خو د ژوند ځینې اسانتیاوې شته، چې په تېره بیا دویم او دریم نسل به ترې ګټه واخیستلای شي. جلاوطنه ټولنې به وګړنې زېښاک ته تن ورکوي، خو په بدل کې به یې تجربې و ظرفیتونه زیاتیږي، له اقتصادي پلوه به پر پښو دریږي او که یې له فرهنګي پلوه خپل رالویېدونکي نسلونه وروزلای شول، نو له دې زرینې چړې څخه به سپینه شوې منه تر ستونې تېره کړي او که په کې ژورو خپګانونو ته ولاړل او د ادغام هڅه یې ناکامه شوه، بیا نو دا زرینه چاړه د منې پرځای د دوی ستونې هم ورپرې کولای شي.

د کوربه هېوادونو له خوا د پانګې، پراختیاغوښتنې او نړیوالې سیالۍ په جګړو کې د ډیاسپورا له بشري ځواک څخه ګټنه هم پخوانی تاریخ لري. په بېلابېلو ټولنو کې له کډوالو څخه د پوځي مریپانو، اجیرو سرتېرو او روزل شویو جګړه مارو په توګه استفاده شوې ده. په روم کې چې د مرییانو جنګول پهکې د تفریح لپاره دود و، له افریقا په تېره بیا مصر، حبشې، لیبیا او مراکش څخه د پیاوړیو غړیو او تنومندو مرییانو بیول او خرڅول یو لوی کاروبار و، چې تر سختې روزنې روسته یې بیا دغه تورپوستي ګلادیاتوران له نورو پهلوانانو او ان وحشي ځناورو سره جنګول.
په لومړۍ او دویمه نړیوالو جګړو کې له مستعمرو څخه راوستي وګړي په بېرحمۍ د داسې جګړو لومړیو کرښو ته استول کېدل، چې ګټې یا بایلات یې نه په دوی پورې اړه لرله او نه یې په مورنیو هېوادونو پورې.
د اروپایي جګړو په ډګرونو کې د هغو اسیایي یا غیر اروپایي جنګیالیو شمېر کم نهو، چې د لوږې له لاسه یا په کارموندنې پسې اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي وو.
د سړې جګړې پر مهال، له یوې خوا د کتلهیي کډوالیو شمېر زیات شو او له بلې خوا د نوي ښکېلاک له لوري د نیابتي جګړو دوران راپیل شو. دا په ایډیولوژیک بنسټ د نړۍ په بېلابېلو سیمو کې د ګوریلایي ډلو د جوړولو، وسلهوال کولو او د لویو قدرتونو د ګټو لپاره د جنګولو نوې زمانه وه. شوروي د چپ – سوسیالیستي نهضتونو ترمنځ وسلهوال انقلابیون روزل او لویدیځ یې په وړاندې د دیني افراطیت ځواکونه.
سړه جګړه په ټوله نړۍ کې سړه نهوه، تر ټولو دوزخي څپې یې پر افغانستان تېرې شوې. د امریکا په مشرۍ لویدیزې نړۍ له شوروي سره د پوځي ټکر میدان افغانستان وټاکه، ځکه داوخت د شوروي پښه افغانستان ته رانناهایستل شوې وه. په دې جګړه کې افغانان ووژل شول او افغانستان وران شو، یوه لویه غمیزه یې دا وه، چې میلیونونه افغانان کډوال شول. د شلمې پېړۍ د پای په لسیزو کې افغانستان د نړۍ له هغو لومړنیو هېوادونو څخه وو، چې ډېر کډوال یې په نړۍ کې تیت و پرک وو او په اصطلاح لویه دیاسپورا یې لرله.
هغه مهال لویه برخه افغانان پاکیستان، ایران، عربي هېوادونو، اروپا او امریکا ته کډوال شول. هر کوربه هېواد له دغې ډلهییزې کډوالۍ څخه د ګټنې نظریې رامنځته کړې. تر ټولو لویه او ګڼاړخیزه ګټه پاکیستان او ایران کوله.
افغانان د دې تر څنګ چې ارزانه، بلکې وړیا بشري قوه وه، د دوی په نامه دغو دوو هېوادونو له نړیوالو قدرتونو او ملګرو ملتونو څخه میلیاردونه ډالر اخیستل. په پاکیستان کې د افغان کډوالو په نامه زرګونه نادولتي موسسې، بنسټونه او اداري فعالې وې، په دویم قدم کې ایران و. دواړو هېوادونو په افغانستان کې ستراتیژیکي ګټې او د نفوذ کولو حرص درلود. دوی هڅه کوله د افغان کډوالو ترمنځ نوي نسلونه د خپل نفوذ او ګټو ترلاسه کولو لپاره وروزي.
دوی خپلو ګټو او نفوذ ته عقیدوي پوښ ورواغوست. په ایران کې شیعه مذهب او پارسي فرهنګ د دغه نفوذ لپاره محور ورګرځېد او په پاکیستان کې د بېلابېلو مذهبونو مدرسې او معهدونه فعال شول، افغانان یې په ډلو وویشل او بیا یې یوه ډله د بلې په وړاندې په ملا وتپوله. پاکیستان او ایران دغه ډلې داسې په مهارت وروزلې او دومره یې د خپلو ګټو په بهیر کې پیاوړې کړې، چې په راروسته لسیزو کې یې په افغانستان کې د قدرت په انډولټاکنه او ان حکومتونو په راپرځولو کې نقش درلود. لویدیزو هېوادونو هم دا کار په یوه بله بڼه کاوه، یوڅه په لوکسه او مهذبه بڼه. نوم یې پرې د مدني ټولنې، تکنوکراټانو، بیروکراټانو او مسلکي تخصصي افغانانو ایښی و. په دې کې هېڅ شک نهشته چې افغانستان د بیارغونې او جوړونې لپاره ګڼو بهر کې روزل شویو کادرونو ته د آب حیات غوندې اړتیا لرله. په دې هم باور لرو، چې ټول بهرمیشتې افغانان هېڅکله د دغسې یوه مدیریت شوي هدف برخه نه وو، د ګڼو کډوالو افغانانو په پاکو نیتونو او وطنپالنې هم هېڅ شک نهشته، خو کوربه هېوادونو هیڅکله د خدای د رضا او یوازې بشردوستانه موخو لپاره ملګرتیا نهپالله. هرکوربه هېواد هڅه کوله د افغان کډوالو له مجبوریت څخه ګټه پورته کړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا لوبه له نورو دیاسپوراوو سره هم وشوه، په ترکیه کې د سوریې له کډوالو، په افریقایي او اروپایي هېوادونو کې د الجزایر، لیبیا، سوډان او نورو افریقایي جګړه ځپلیو هېوادونو او په اسیایي هېوادونو کې د برما، ویتنام او ګڼو نورو جنګوجهل ځپلیو هېوادونو له دیاسپوراګانو سره همداسې چلند روان و. پښتانه وايي: هېڅ پیښو د خدای لپاره موږک نه‌نیسي.

د نومهالي ښکېلاک او د ګټې وټې و پراختیاغوښتنې په نویو جګړو کې چې نړۍ یې په وینو لړلې ده، تر ټولو ګواښمنه ښکارنده په ډیاسپورا کې د نیابتي افراطي وسلوالو ډلو روزل او سره جنګول وو/ دي. د شوروي تر سقوط روسته د هغو نړیوالو جهادي ډلو په محور چې په افغانستان کې د شوروي په ضد جنګېدل، په سلګونو داسې سازمانونه او جنګي ډلې جوړې شوې، چې اوس یې نیمايي نړۍ ناامنه کړې ده.

د روستي نیمې پېړۍ کتله‌یي کډوالۍ چې لویدیځ هېوادونه یې روستی تمځای ګڼل کېږي، د امنیت، کار، زدکړو او هوسا ژوند موندلو په پار ترسره کیږي. کډوال منونکي هېوادونه هماغومره چې د دوی له بشري ظرفیت څخه د ګټنې په فکر کې دي، له دوی څخه د سیاسي او امنیتي ضربیونو په توګه د استفادې فکرهم ورسره دی.

د اقتصادي درېیمې زریزې The third millennium of world economy تیوري له مخې د اسیا اقتصادي زون د نړیوال اقتصاد په اصلي مرکز بدلیدونکی دی.

د نفوسو د تراکم له مخې د اسیا تر ټولو لوی مارکېټ، د خامو توکیو او اینرژي سرشاره زېرمې و سرچینې، پرېمانه بشري ځواک او بې‌خاونده چاپېریال لویدیځ صنعتي خدایګوټي ورکاږي. د دې پرځای به تکنولوژي، مالي پانګه، امنیت او مدیریت د لویدیځوالو په انحصار کې وي.

پر اسیایي اقتصاد د حاکمیت سیالي همدا اوس پیل شوې ده. په دې ټوله سیالي کې اسیایي دیاسپورا د ریزرف ځواک په توګه مهم ګڼل کیږي، خو د دې ټولو موخو او ښېګڼو ترځنګ لویدیځ له دغه سیلاو څخه ویره هم لري. توکمیز (نژادي) ګډون، فرهنګي یرغل، د جرایمو زیاتوالی، د دیني توازن بدلون او ګڼ نور فرهنګي و ټولنیز مسایل شته، چې د لویدیځ ځانساتي ( Conservative ) سیاستوال او ګوندونه یې په شدت اندېښمن کړي دي. دوی فکر کوي، چې ډیاسپورا پرسیږي او اروپایي هویت لاندې کوي. خو د دې په وړاندې کېن‌اړخي او نور ځواکونه استدلال کوي، چې د Globalization په زمانه کې چې تکنولوژي نړۍ په کوشنې کلي بدله کړې، له فرهنګي پلوه ځان‌ساتنه شونې نه‌ده او غوره دا ده، چې له خپلو توانمندیو سره د (تکنولوژي، ساینس، عقلانیت، مدیریت او امنیتي برترۍ) په مټ نړیوالې سیالی ته ورننوځو او په اسیایي اقتصاد و مارکېټ کې لویه برخه ونډه و سرچینې راخپلې کړو، د دغه استدلال خاوند سیاستوال او مفکران له اسیا، افریقا او نورو سیمو سره د وصل یو مهم پول ډیاسپورا ګڼي.

په دغه نوي منطق کې هم ډیاسپورا د زریني چاړې حیثیت لري، چې هم میوه سپینولای او هم ګوتې غوڅولای شي. هوښیارۍ او د عقلانیت په محور سره راټولې ډیاسپوراوې هم کولای شي، د کوربه هېوادونو امکانات د خپلو پلرنیو ټاټوبیو د ودانولو، مختګ او ټولیزې هوساینې لپاره په ملي فرصتونو بدل کړي او هم د معقول ادغام په بهیر کې یوشمېر دغه ظرفیتونه بېرته په کوربه ټولنه کې هم ټولنې ته وړاندې کړی.

مانا دوی هم د زرو یوه چاړه په لاسونو کې لري، چې کړای شي، د خپلو بومي او کوربه هېوادونو لپاره یې د یوې ښې وسیلې په توګه وکاروي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ